# يقينا چې الله جل جلاله زما امت ته له هغه څه تېر شوی چې دوی ته يې نفسونه وسوسې وراچوي، تر هغه پورې چې يا پرې عمل وکړي او يا يې ووايي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: " يقينا چې الله جل جلاله زما امت ته له هغه څه تېر شوی چې دوی ته يې نفسونه وسوسې وراچوي، تر هغه پورې چې يا پرې عمل وکړي او يا يې ووايي".
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې مسلمان په هغه څه نه نيول کيږي چې په زړه کې يې کومه د شر خبره تېره شي مخکې لدې چې عمل پرې وکړي او يا يې په ژبه ووايي، ځکه چې الله جل جلاله مشقت پورته کړی او بخښلی يې دی، او د محمد صلی الله عليه وسلم امت په هغه څه نه نيسي چې په ذهن کې يې تېرېږي او په زړه کې يې اوړي را اوړي، خو پدې شرط چې باور پرې ونه کړي او زړه ته يې کښېنباسي؛ خو که چېرته يې په زړه کې ځای ورکړ لکه کبر، غرور، منافقت او يا يې په اندامونو عمل وکړ او يا يې په ژبه وويل، نو بيا پرې نيول کيږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58144